**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

واحد فقیري ۲۰۱۲/۰۸/۱۳

# د زاخېلوال ژړا، د وردګ استعفی

د کابل په سیاسي صحنه کي کله نا کله عجیبي ننداري او حادثي پېښېږي. څو ورځي مخکي، د پارلمان غړو د دفاع او داخلي وزیران دواړه یو ځای سلب اعتماد کړل. د پارلمان غړو اعتراض دا وو چي د دفاع او داخلي وزارتونه نه یوازي د پاکستان د ظالمانه ګوزارونو جواب ندی ویلی، په دواړو وزارتونو کي یي د مزمن او عام اختلاس مخه نده نیولي، بلکي د عالي رتبه مامورینو د مرګ وژبلي لړی یي هم نده درولي. البته، د پارلمان ګرده اندېښني او الزامونه سم او پر حق دي. دواړه وزارتونه د پیسو پیداکولو په مرکزونو بدل سوي دي، او رحیم وردګ او بسم الله محمدي په فساد او رشوت کي کارنامي جوړي کړي دي.

خو د رحیم وردګ استعفی د اصولو سره سم کار وو. رحیم وردګ پدې برخه کي اقلا څه وقار، شجاعت، او عمومي پرنسیپ ته وفاداري وښودله. هغه ددې پر ځای چي د سرپرست په توګه خپلي دندي ته دوام ورکړي، استعفی یي غوره وګڼله. په متمدنه دنیا کي کله چي یو وزیر او یا بل عالي رتبه مقام پخپلو وظایفو کي پاتي راسي، نو په حرمت او شهامت له خپل مقام څخه استعفی کوي، خو د کرزي صاحب په اداره کي دا اصل تل تر پښو لاندي سوی دی، او ډېرو وزیرانو په کلونو د سرپرست په توګه وزارتونه کړي دي.

بلخوا، «بچه هاي مقاومت» هیڅکله هم د رحیم وردګ د اخري شېبي مېړانه نده ښودلي. هغوی ته د مقام ساتل په هر قیمت روا کار دی، او پدې برخه کي «مقاومت» او بي شرمي ورته عادت ګرځېدلی دی. واقعیت دا دی چي د شمال ایتلاف په فرهنګ کي له حکومتي مقام څخه په عزت لیري کېدل یو نا اشنا مفهوم دی.

ویل کېږي چي د پارلمان له فیصلي را وروسته د شورا نظار باقي پاتو د فهیم خان په حجره کي په اضطراري توګه جرګه سوي ول. مارشال فهیم د خپل فطرت له مخي مجلس په پوچ او رد افتتاح کړ. هغه رئیس صاحب، زاخېلوال، اشرف غني، احدي، خلیلي، سپنتا، او حزب اسلامي په دسیسو او د قدرت په غصبولو تورن کړل؛ او بلآخره یي خپلو مافیایي ملګرو ته وویل چي دا د مجاهدینو او د بچه هاي مقاومت پر خلاف یوه دسیسه ده او باید مواظب و اوسئ.

بلخوا، په عام مجلس کي او د خارجي دیپلوماټانو په حضور کي، د زاخېلوال اوښکي څه نمایشي غونډي ښکاري ځکه د کابل بانک په چور او تالان کي د حامد کرزي ټول وزیران، ورونه، او انډیوالان شریک دي. کابل بانک د زاخېلوال په شمول د کابیني مطلق اکثریت غړو ته رشوتونه ورکړي دي، او د جهاني صاحب په ښه تعبیر د کابیني «سپین چرګ» زخېلوال هم خپله وړه ونده اخیستي او تر کانادا پوري یي رسولې ده. خو حقیقت دا هم دی چي زاخېلوال په هیچ وجه د شمال د ایتلاف د جنایتکارانو په شان فاسد او غل ندی. د هغه وزارت په ټولو وزارتونو کي فعال او لایق مامورین لري.

البته، زاخېلوال خپلي کمزوری لري. د هغه یو بد عادت د افغانانو په مقابل کي بېځایه غرور او تکبر دی. زاخېلوال فکر کوي چي «عقل کل» دی او په هر څه پوهېږي. د هغه بل کرغېړن عادت د بي اساسه ارقامو او احصایو ویل دي. هغه ګومان کوي چي ارقام او احصایي کولای سي چي د حقیقت ځای ونیسي. زاخېلوال خپلو درواغو او غرور دونه پرېوتی او کوږ کړی دی چي حتی د خپل وزارت مخته یي هم یو ځل ندي کتلي چي د افغانستان اقتصاد په کوم حالت کي دی. د زخېلوال بل خراب خوی دا دی چي د افغاني میډیا په مخ کي د غربي دیپلوماټانو او مطبوعاتو مذمت کوي، خو د سختیو په وخت کي د همدې بهرني دیپلوماټانو په مخکي د تمساح اوښکي تویوي او د هغوی څخه د خپل سر او مال ساتل غواړي. د زخېلوال په باب د فارسي هغه مقوله پوره صدق کوي چي وایي: « اګر نباشد چیزکی، مردم نه ګوید چیزها.»


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

بالاخره، د وردګ استعفی او د زاخېلوال ژړا يو بل خطرناکه عمومي تمايل رابرسېره کوي او هغه دا چي د کابل په رژيم کي د غربپاله تکنوکراتانو کمزوري او رسوايي يو تصادف ندی، بلکي د يوه راتلونکي انکشاف استازيتوب کوي. اغلب ګومان دا دی چي د خارجي قواوو د راکمېدو سره سم به د کابل په حکومت کي د تکنوکراتانو او غربپاله وزيرانو شمېر او نفوذ راکم سي. اکثره ديموکرات او غربپاله وزيران، واليان، او عالي رتبه مامورين به د جهادي تنظيمي فشارونو په وجه د وطن پرېښودو ته مجبور کړای سي. پخواني قومندانان، مجاهدين، مليشاووي به خپل پلويان په کابيني او نورو مهمو ځايونو کي نصب کړي، او د حامد کرزي اداره به هو به هو د «شر او فساد» دورې ته ورته وي. ټول مهم مقامونه به جهادي او تنظيمي وارلاډان ترلاسه کړي. د ايران، روسيې، او هند پلويان به په غوره کي وي.

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ